# د ټولو نه
# اعلیٰ
# زمونږ نبي

**16-SEPTEMBER-2024**



## د میلاد د اجتماع کال 1446ھ بیان

**FOR ISLAMIC BROTHERS**

د میلاد د اجتماع کال 1446ھ (16 ستمبر کال 2024ء/د دولسمې شپې) بیان

# د ټولو نه اعلیٰ زمونږه نبي

پۀ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... د لوئے رحمت عطا کیدونکې شپه
- ...د رسالت د شان ځانګړتیا
- ... د صفاتِ اِلٰهی مظهر
- ... د ټولو جهانونو نبي

پیشکش

اَلْمَدِیْنَةُ الْعِلْمِیَة

Islamic Research Center

(شعبه : بیاناتِ دعوتِ اِسلامي)

***For Feedback***: +92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ الله وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (**ترجمه**: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

حُجَّةُ الاِسلَام حضرت امام محمد بن محمد بن محمد غزالي رحمةُ الله عليه ليکي: يو ځل الله پاک د خپل نبي حضرت موسیٰ کليمُ الله عليهِ السَّلَام طرف ته وحي وليږله، اوئې فرمائيل: اے حضرت موسیٰ! ❀ ستا خبرې چې څومره ستا ژبې ته نزدې دي ❀ ستا خيالونه چې څومره ستا زړۀ ته نزدې دي ❀ ستا رُوح چې څومره ستا بدن ته نزدې دے ❀ ستا د سترګو بينائي چې څومره ستا سترګو ته نزدې ده ❀ ستا د اوريدو طاقت چې څومره ستا غوږونو ته نزدې دے، که تۀ غواړې چې ستا زما سره د دې نه هُم زيات قُرب نصيب شي نو بيا زما پۀ محبوب نبي حضرت مُحَمَّد صلَّى الله عليهِ واٰلهٖ وسلَّم باندې پۀ کثرت سره دُرُود لوله---!! (1)

آنکھوں کا تارا نامِ مُحَمَّد
دِل کا اُجالا نامِ مُحَمَّد

نُوح و خلیل و موسیٰ و عیسیٰ
سب کا ہے آقا نامِ مُحَمَّد

اللہ والا دَم میں بنادے
اللہ والا نامِ مُحَمَّد (2)

---

1...مکاشفة القلوب، باب فی الرياضة و الشهوة النفسانية، صفحه:22۔

2...قبالۂ بخشش، صفحه:133، 134 بتقدم و تاخر۔

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلَّی اللہ علَیہِ واٰلہٖ وسلَّم ځومره عظیم شان دے--!! حضرت موسیٰ علَیہِ السَّلام د الله پاک نبي دے، پهٔ اُولُو العَزم رسولانو کښې دے، یعني هٔغه 5 انبیائے کرام علَیہِمُ السَّلام کوم چې د باقي ټولو نبیانو نه افضل دي، پهٔ هغوئي کښې یو حضرت موسیٰ علَیہِ السَّلام هم دے ❀ الله پاک هغوئي کَلِیمُ الله جوړ کړل ❀ خپل پاک کلام یې هغوئي ته واورولو ❀ پهٔ کوهِ طُور باندې جلوه ګر شو او د هغوئي مرتبه یې نوره هم اوچته کړله ❀ د دومره اوچت شان والا نبي دے ❀ الله پاک ته به ځومره نزدې وي ❀ ځومره د اوچت شان والا به وي ❀ د هغوئي د عزّت او مرتبے خو مونږ هډو سوچ هم نشو کولے ❀ د دومره اوچت شان والا نبي حضرت موسیٰ علَیہِ السَّلام ته ارشاد کیږي: اے موسیٰ! که نُور رانزدې کیدل غواړې نو زما پهٔ **محبوب** صلَّی اللہ علَیہِ واٰلہٖ وسلَّم **باندې دُرُود لولئ، د قُرب پهٔ منزلونو کښې به نوره نوره ترقئ کوئ۔**

| | |
|---|---|
| خُدا نے اِس قدر اُونچا کیا پایہ مُحَمَّد کا | نہ پہچانا کسی نے آج تک رُتبہ مُحَمَّد کا |
| سیہ کاروں کی کیا گنتی کہ دَرگاہِ اِلٰہی میں | وسیلہ ڈھونڈتے ہیں حضرت موسیٰ مُحَمَّد کا |

**وضاحت:** د الله پاک پهٔ نزد د نبي کریم صلَّی اللہ علَیہِ واٰلہٖ وسلَّم مقام او مرتبه دومره اوچته ده چې ځوک هم هغه نشي حاصلولے، الله! الله! مونږ ځوک یو، د الله پاک د قُرب حاصلولو د پاره خو مونږه هم د حضرت موسیٰ علَیہِ السَّلام وسیله وړاندې کوو۔

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د دې نه اندازه ولګوئ چې مونږه خو ګنهګاران یو، خطا کاران یو، شپه ورځ پهٔ ګناهونو کښې ډوب یو، پهٔ مونږ باندې ځومره لازم دي چې مونږ دُرُود ولولو، پهٔ کثرت سره یې ولولو، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! د دې پهٔ برکت باندې به ❀ ګناهونه صفا شي ❀ زړونه به روښانه شي ❀ اخلاق او کردار او عادتونه به ښه شي ❀ که الله پاک وغوښتل نو ضرور به د الله پاک قُرب هم نصیب شي ❀ دُنیا به هم ښه

شي ✿ پۀ آخرت کښې به هم کامیابي نصیب شي- لهٰذا پۀ کثرت سره د دُرُودِ پاک د لوستلو عادت جوړ کړئ! هم د نن نه دُرُودِ پاک لوستل شروع کړئ! امیرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الیاس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پۀ **نیک اعمال** کښې مونږ ته ترغیب راکړو چې روزانه (که زیات نه وي نو) کم از کم 313 کرته دُرُودِ پاک لولئ- نیت وکړئ! هم د نن نه پۀ دې نیک عمل باندې عمل شروع کړئ، وخت مقرر کړئ او روزانه کم از کم 313 کرته خو دُرُود شریف لازمي لولئ- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم!

اعلیٰ سے اعلیٰ رِفعت والے
بالا سے بالا عظمت والے
سب سے برتر عزّت والے
صَلَّی اللّٰہُ صَلَّی اللّٰہ

صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْكَ وَسَلَّم، صَلَّی اللّٰہُ صَلَّی اللّٰہ

مالکِ کُل کے تم ہو نائِب
سب ہے تمہارا حاضِر و غائِب
تم ہو شُہُود و غیبت والے
صَلَّی اللّٰہُ صَلَّی اللّٰہ

صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْكَ وَسَلَّم، صَلَّی اللّٰہُ صَلَّی اللّٰہ

تم ہو حق کے، وہ ہے تمہارا
سب ہے تمہارا جو ہے اس کا
حق سے ایسی اُلفت والے
صَلَّی اللّٰہُ صَلَّی اللّٰہ

صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْكَ وَسَلَّم، صَلَّی اللّٰہُ صَلَّی اللّٰہ

تم ہو ہمارے، ہم ہیں تمہارے
رَبّ کے پیارے رَاج دُلارے
عزّت والے، عظمت والے
صَلَّی اللّٰہُ صَلَّی اللّٰہ

صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْكَ وَسَلَّم، صَلَّی اللّٰہُ صَلَّی اللّٰہ(1)

[1]...سامانِ بخشش، صفحہ: 97تا102 ملتقطاً۔

## د بيان اوريدلو نيتونه

پهٔ حديثِ پاک کښې دي: اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار پهٔ نيتونو دے- [1]

اے د خوږ نبي صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو! پهٔ ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي- راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څهٔ ښهٔ ښهٔ نِيَّتونه وکړو: مَثَلاً ❁ د الله پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ❁ پهٔ اَدب به کښينم ❁ ښهٔ پهٔ توجُّه به بيان اورم ❁ څهٔ چې واورم، د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د لوئے رحمت عطا کيدونکې شپه

يو ځل نيمه شپه وه، د الله پاک د نبي حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام حَوّاريانو (يعني پهٔ هغوئي باندې ايمان راوړنکو خوش قِسمتو) نـمونځ ادا کړو، بيا د حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام خوا ته راجمع شول- دا يوه ځانګړې شپه وه، نا اشنا شپه وه، کومه شپه وه؟ پخپله يـې د حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام د خُلې مبارکې نه واورئ!

هغوئي خپلو حواريانو ته وفرمائيل: نن هٔغه شپه ده کومه چې به د مسيحا رسول (يعني مُحَمَّد مصطفٰے صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ) پهٔ زمانه کښې هر کال د جشن پهٔ طور باندې نمانځلے شي، ځکه زهٔ نه غواړم چې نن مونږه اوده شو بلکې چې نن مونږ د خپل رَبِّ کريم پهٔ حضور کښې 100 کرته سر ټيټ کړو او نـمونځ ادا کړو، د خپل رَبّ پهٔ حضور کښې

[1]...بخارى، کتاب بدء الوحى، صفحہ:65، حديث:1۔

سجده وکړو- نور یـې وفرمائیل: مونږ ته د الله پاک شُکر ادا کول پکار دي چې هغهٔ مونږ ته پهٔ دې شپه کښې ډیر لوئے نعمت راعطا کړے دے- (1)

**سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** څومره ښکلے شان د الله پاک د نبیانو---!! حضرت عیسیٰ عَلَیْهِ السَّلَام د ځغه شان والا نبي دے، د چا د عِلمِ غیب معجزه چې پهٔ بیل اندازسره پهٔ قرآنِ کریم کښې ذِکر شوې ده او د هغوئي د عِلمِ غیب شان ته وګورئ! پهٔ زرګونو کاله مخکښینی خبره ده، حضرت عیسیٰ عَلَیْهِ السَّلَام د الله پاک پهٔ عطا سره، د عِلمِ غیب پهٔ شان سره ځغه وخت د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اُمَّت انداز لیدلو، د عشق رنګونه وېني، هغوئي ته معلومه وه چې د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ولادت شپه ځغه عظیمه شپه ده چې د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمَّت به د دې شپې قدر پیژني، د خپل آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره به د کمال درجے عشق کوي او د هغوئي د ولادت شپه به هر کال د جشن پهٔ طور باندې نمانځي-

نہ کیوں آج جھومیں کہ سرکار آئے
خدا کی خدائی کے مُختار آئے

نہ کیوں بارہویں پر ہمیں پیار آئے
کہ آئے اِسی روز سرکار آئے

وہ آئے دو عالم کے مختار آئے
لو آج آئے امّت کے غمخوار آئے (2)

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** دلته پهٔ یوه بَله خبره باندې غور وکړئ! حضرت عیسیٰ عَلَیْهِ السَّلَام د محبوب صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د راتللو د زیري اورولو د پاره راغلے وو، چا ته چې دا معلومه وه چې زما نه پس به بل یو نبي هُم تشریف نه راوړي، صرف او صرف احمد نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به تشریف راوړي، هغوئي ته دا هم معلومه وه چې رسول الله

---

1 ... انبیائے سابقین اور بشارتِ سید المرسلین، صفحہ:45۔
2 ...وسائل بخشش، صفحہ:499۔

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم به كله دُنيا ته تشريف راوړي، پۀ كومه شپه به هغوئي دُنيا ته تشريف راوړي، لا نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم دُنيا ته تشريف راوړے نه وو، د دې نه زرګونه كاله مخكښې، عين د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم د ولادت پۀ شپه لكه چې د جشنِ ميلادِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم محفل راجوړ شوے وو او انداز مبارك يـې خومره عظيم وو، حضرت عيسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام خپلو حواريانو ته د دې شپې د شُكر ادا كولو حكم وكړو او اوئې فرمائيل: نن به مونږه (د ميلادِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم كوم چې څو صدۍ پس كيدونكے دے، د هغې) پۀ شُكرانه كښې 100 ركعته نـمونځ ادا كوو۔

رُسل اُنہیں کا تو مژدہ سنانے آئے ہیں
اُنہیں کے آنے کی خوشیاں منانے آئے ہیں

فرشتے آج جو دُھومیں مچانے آئے ہیں
اُنہیں کے آنے کی شادی رَچانے آئے ہیں

یہ سیدھا راستہ حق کا بتانے آئے ہیں
یہ حق کے بندوں کو حق سے ملانے آئے ہیں[1]

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! ❁ نن د هٰغې جشن والا شپه ده ❁ سبا د اخترونو اختر دے ❁ نن د اختر شپه ده ❁ نن هٰغه شپه ده پۀ كومه شپه چې ستوري د زمكې طرف ته راښكته شوي وو ❁ كعبه پۀ سلامۍ كښې راښكته كيدله ❁ فرښتے د مباركۍ وركولو د پاره د سيده آمنه رَضِىَ اللهُ عَنْهَا كور ته راتللې ❁ د قيصر او كسرىٰ (يعني د هٰغه وخت د ډيرو طاقتورو بادشاهانو) پۀ محلونو باندې زلزله راغلې وه ❁ آؤ! آؤ! نن هٰغه شپه ده د كومې پۀ بركت چې زمونږ نه تيارې لرې شوې ❁ نُور پۀ دُنيا كښې راخور شو ❁ رحمت راخور شو ❁ ورانې ودانې شوې ❁ بختونه رابيدار شول ❁ د رَبّ عظيم فضل وشو ❁ د دواړو جهانونو سردار، د مكې مدينے تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم رَحْمَةٌ لِّلْعٰلَمِين دُنيا ته تشريف راوړلو۔

---

[1]…سامانِ بخشش، صفحہ:137۔

نصیب چمکے ہیں فرشیوں کے کہ عَرش کے چاند آرہے ہیں
جھلک سے جن کی فلک ہے روشن، وہ شمس تشریف لارہے ہیں

ہیں وجد میں آج ڈالیاں کیوں؟ یہ رَقص پتّوں کو کیوں ہے شاید
بہار آئی یہ مُژدہ لائی کہ حق کے مَحبُوب آرہے ہیں

خُوشی میں سب کی کُھلی ہیں باچھیں، رَچی ہے شادی، مچی ہیں دُھومیں
چرند اِدھر کھلکھلا رہے ہیں، پرند اُدھر چہچہا رہے ہیں

نثار تیری چہل پہل پر ہزار عیدیں ربیعُ الاوّل
سوائے ابلیس کے جہاں میں سبھی تو خوشیاں منا رہے ہیں

شبِ وِلادت میں سب مسلماں نہ کیوں کریں جان ومال قرباں
ابولہب جیسے سخت کافِر خوشی میں جب فیض پارہے ہیں

زمانہ بھر کا یہ قاعِدہ ہے کہ جس کا کھانا، اُسی کا گانا
تو نعمتیں جن کی کھارہے ہیں، اُنہیں کے ہم گیت گارہے ہیں

خُدا کے وہ ہیں، خُدائی اُن کی، رَبّ ان کا مولیٰ، وہ سب کے آقا
نہیں خُدا تک رسائی اُن کی جو اِن سے ناآشنا رہے ہیں

پھنسا ہے بحرِ اَلم میں بیڑا اپنے خدا ناخدا سہارا
اکیلا سالکؔ ہیں سب مخالف ہمومِ دنیا ستا رہے ہیں(1)

**صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد**

---

1…دیوانِ سالک، صفحہ:35تا37 ملتقطاً۔

# د ټولو نه د اوچتې مرتبې والا نبي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو نه د اوچتې مرتبې والا نبي دے ❀ کومه مرتبه ❀ کوم مقام ❀ کوم فضيلت ❀ کوم شان ❀ کوم عظمت ❀ کوم عزت ❀ کوم قُرب ❀ کومې درجې ❀ کوم اوچت والے ❀ کوم عُرُوج چې رَبِّ رحمان ❀ مالکِ کائنات ❀ خالقِ کائنات خپل محبوبِ ذيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته عطا کړے دے، داسې مرتبه، داسې مقام، داسې عظمت، داسې شان، داسې قُرب، داسې عُرُوج نۀ مخکښې چا ته ميلاؤ شوے دے او نۀ چا ته بيا ميلاويدے شي- الله پاک پۀ قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ ۘ مِنْهُمْ مَّنْ كَلَّمَ اللّٰهُ وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ دَرَجٰتٍ ؕ (پاره:3،سورۂ بقره:253) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: دا رسولان دي مونږ په دوئي کښې يو ته پۀ بل باندې فضيلت عطا کړو، پۀ دوئي کښې بعضو سره الله کلام فرمائيلے او خوک هغۀ دے چې هغۀ ته يـې پۀ ټولو باندې پۀ درجو اوچتوالے عطا کړو- |

پۀ دې آيت مبارک کښې صفا وفرمائيلے شول:

وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ دَرَجٰتٍ ؕ

يعنې يو نبي هغۀ دے، کوم ته چې پۀ ټولو انبيائے کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام باندې پۀ درجو اوچت والے عطا کړے شو، د عِلمِ تفسير ټول علمائے کرام بلکې امام رازي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د ټول اُمَّت پۀ دې باندې اتفاق دے چې دا يو نبي کوم ته چې پۀ ټولو باندې پۀ درجو فضيلت ورکړے شوے دے، **د دې نه مُراد زما او ستاسو آقا، مُحَمَّد مصطفٰے** صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

دے۔ [1]

ځکه خو اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیه وائي:

| | |
|---|---|
| سب سے اَوْلیٰ واَعْلیٰ ہمارا نبی | سب سے بالا و والا ہمارا نبی |
| خَلْق سے اَوْلیا، اَوْلیا سے رُسُل | اور رسولوں سے اعلیٰ ہمارا نبی [2] |

**وضاحت:** اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیه کمال کړے دے---!! د شعر وزن هم نه ماتیږي، د لفظونو حُسن هم په ځائے دے، د ادب هم تولې تقاضې پوره دي، بیا د دې سره سره ترتیب ته وګورئ! خومره ښکلے ترتیب یې لګولے دے۔ ❀ د ټولو نه وړومبی مرتبه د عامو خلقو ده ❀ د عام مخلوق نه اولیائے کرام افضل دي ❀ په ټولو اُمَّتونو کښې د ټولو نه د اوچتې مرتبے والا وَلِي حضرت صِدِّيقِ اکبر رضی اللہ عنه دے ❀ د هغوئي نه اوچته مرتبه د انبیائے کرامو علیهم السّلام ده ❀ د انبیائے کرامو نه اوچته مرتبه د رسولانو ده ❀ بیا په رسولانو کښې د ټولو نه د اوچتې مرتبے رسول زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم دے۔

| | |
|---|---|
| خُدا کے بعد افضل جانتا تم کو دو عالم سے | یہی تو ہے ہمارا دِین و ایماں یا رسولَ اللہ! |

## داسې شان دا چا نصیب نه شو

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** په آیت مبارک باندې لږ غور وکړئ! اللّٰه پاک وفرمائیل:

| | |
|---|---|
| وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ دَرَجٰتٍ ؕ | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او څوک هغهٔ دے چې هغهٔ ته یې په ټولو باندې په درجو اوچتوالے عطا کړو۔ |
| (پارہ:3، سورۂ بقرہ:253) | |

[1]...تفسیرِکبیر، پاره:3، سورهٔ بقره، زیرِآیت:253، جلد:2، صفحه:521 مفهوماً۔

[2]...حدائقِ بخشش، صفحه:138 ملتقطاً۔

دلته وګورئ چې الله پاک دا خو وئیل چې محبوبِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو نبیانو نه افضل دے خو د هغوئي نوم مبارک یـې ذِکر نه کړو- پهٔ دې کښې څهٔ حکمت دے---؟ دا هم ډیره ایمان تازه کوونکې خبره ده، علمائے کرام فرمائي: د نوم ضرورت هلته وي، چرته چې د دې شان والا بَل هم موجود وي، که د دې شان مالک هُم یو وي نو د نوم اخستو ضرورت نه وي، هسې هم خبره ذهن ته راځي-

پهٔ ساده مثال سره یـې عرض کووم، که زهٔ ووایم: ❀ زما خالق هغهٔ دے، چا چې دا اسمان جوړ کړے دے- تاسو به پوهه شئ چې زهٔ د چا خبره کووم، اسمان جوړوونکے هم یو ذات دے، ځکه د نوم اخستو ضرورت رانغلو، ❀ زهٔ وایم: ما ته رزق راکوونکے هغهٔ دے، کوم چې ټول جهان ته رزق ورکوي، تاسو به پوهه شئ چې د ټولو پالونکے، د ټولو خالق، د ټولو رازق صرف او صرف الله پاک دے، هډو بل څوک شته نه، ځکه که نوم وانخستے شي، نو بیا به هم ذِهن یو طرف ته ځي، معلومه شوه چې د دې شان والا ذات هم یو وي نو د نوم اخستو ضرورت نه راپیښیږي، ځکه چې الله پاک د ❀ حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام د شان ذِکر وکړو نو نوم یـې واخستو ❀ د حضرت نُوح عَلَيْهِ السَّلَام د شان ذِکر یـې وکړو نو نوم یـې واخستو ❀ د حضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَام د شان ذِکر یـې وکړو نو نوم یـې واخستو ❀ د حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام د شان ذِکر یـې وکړو نو نوم یـې واخستو ❀ د حضرت عیسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام د شان ذِکر یـې وکړو نو نوم یـې واخستو ❀ خو چې کله نمبر راغلو، د هٰغه ذیشان نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نو نوم یـې وانخستو بلکې اوئې فرمائیل:

| | |
|---|---|
| وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ دَرَجٰتٍ ؕ (پاره:3، سورۃالبقرہ:253) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او څوک هغهٔ دے چې هغهٔ ته یـې پهٔ ټولو باندې پهٔ درجو اوچتوالے عطا کړو- |

لکه چې دا وئيلے کيږي چې د ټولو نه افضل نبي هم يو دے، لهٰذا که نوم وانخستے شي نو هم ذِهن هُم يو طرف ته ځي، ټول پوهيږي چې د بے شميره او عظيم الشان درجو والا نبي حضرت مُحَمَّد صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دے، هُم هغۀ د ټولو نه افضل دے۔ (1)

| | |
|---|---|
| سارے اچھوں سے اچھا سمجھئے جسے | ہے اُس اچھے سے اچھا ہمارا نبی |
| سارے اُونچوں سے اُونچا سمجھئے جسے | ہے اُس اُونچے سے اُونچا ہمارا نبی |
| مُلکِ کونین میں انبیا تاجدار | تاجداروں کا آقا ہمارا نبی (2) |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## اے محبُوبه! تاسو ته کوم فضيلت ميلاو شوے---؟

حضرت سلمان فارسي رضی اللہ عنہ مشهور صحابئ رسول دے، هغوئي فرمائي: يو ځل چا د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ خدمت کښې عرض وکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! ❁ الله پاک د حضرت موسیٰ عَلَیۡہِ السَّلَام سره کلام وفرمائيلو ❁ حضرت عيسیٰ عَلَیۡہِ السَّلَام يـې د رُوحُ القدس (يعني پۀ خپل قدرتِ کامله سره بغير د پلار نه) پيدا کړو ❁ ابراهيم عَلَیۡہِ السَّلَام يـې خپل خليل جوړ کړو ❁ حضرت آدم عَلَیۡہِ السَّلَام ته يـې بزرګي عطا کړله، تاسو ته کوم خاص فضيلت عطا کړے شوے دے؟ حضرت سلمان فارسي رضی اللہ عنہ فرمائي: د دې نه مخکښې چې رسولِ خُدا صَلَّی اللہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ځۀ جواب ارشاد فرمائيلے وے، فوراً جبريلِ امين عَلَیۡہِ السَّلَام حاضر شو، د رَبِّ کائنات پيغام يـې

---

1…فتاویٰ رضويه، جلد:30، صفحه:151 بتصرف۔

2…حدائقِ بخشش، صفحه:139، 140 بتقدم و تاخر۔

راوړلو، عرض يې وکړو: الله پاک فرمائي: اے خوږه محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ❀ که ما ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام خليل جوړ کړے دے نو د هغې نه مخکښې مې تاسو خپل حبيب جوړ کړي وئ ❀ که ما د موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام سره پۀ زمکه باندې کلام وکړو نو تاسو مې د اسمان نه بره راوغوښتئ او د کلام شرف مې در عطا کړلو ❀ که عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام مې د رُوح القدس (يعني پۀ خپل خاص قدرت سره بغير د پلار نه) پيدا کړے دے نو ستاسو نوم مې د مخلوق د پيدائش نه 2 زره کاله مخکښې پيدا کړے وو ❀ اے محبوبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ستا مبارک قدمونه پۀ اسمانونو کښې هُغه ځائے ته ورسيدل، چرته چې نۀ مخکښې د چا قدم رسيدلے وو او نۀ به ستاسو نه پس د چا ورسي ❀ اے محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم که ما آدم عَلَيْهِ السَّلَام ته بزرګي ورکړله نو پۀ تاسو باندې مې د نبوت سلسله ختمه کړله، اے خوږه حبيبه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! زما پۀ نزد ستاسو نه زيات عزت والا ما څوک هم جوړ نکړل، ما دُنيا دې د پاره جوړه کړله چې خلق ستاسو عزت او عظمت ووينې، وَلَوْلَاكَ لَمَا خَلَقْتُ الدُّنْيَا اے محبوبِ ذيشانه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! که تاسو نه وے نو ما به هډو دُنيا نه جوړوله-[(1)]

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے زما د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم --!! بيا مونږه ولې اونه وايو:

زمین و زماں تمہارے لئے مکین و مکاں تمہارے لئے
چُنین وچُناں تمہارے لئے بنے دو جہاں تمہارے لئے

---

[1]...تاريخ مدينه دمشق، جلد:3، صفحه:517، 518 ملتقطاً-

دَہن میں زباں تمہارے لئے بدن میں ہے جاں تمہارے لئے
ہم آئے یہاں تمہارے لئے اٹھیں بھی وہاں تمہارے لئے

کَلیم و نَجی مَسیح و صَفی خلیل و رَضی رسول و نبی
عَتیق و وَصی غَنی و علی ثنا کی زباں تمہارے لئے

اِصالتِ کل امامتِ کل سِیادَتِ کل اِمارتِ کل
حکومتِ کل وِلایتِ کل خُدا کے یہاں تمہارے لئے

تمہاری چمک تمہاری دمک تمہاری جھلک تمہاری مہک
زمین و فلک سِماک و سمک میں سکہ نشاں تمہارے لئے [1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## واورئ---! زهٔ د الله پاک حبيب يم

د حديثِ پاک پهٔ مشهور کتاب **ترمذي شريف** کښې حديثِ پاک دے، صحابئ رسول حضرت عبد الله بن عبّاس رضی اللہ عنہما فرمائي: يو ځل صحابهٔ کرام رضی اللہ عنہم راجمع وو، د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلَّی اللہ علیہ والہ وسلَّم د راتللو انتظار يـې کولو، پهٔ دې کښې هغوئي عِلمي خبرې اترې شروع کړې، بيا خوږ آقا، رسولِ خُدا صلَّی اللہ علیہ والہ وسلَّم هم تشريف راوړلو، رسول الله صلَّی اللہ علیہ والہ وسلَّم چې کله د صحابهٔ کرامو خوا ته راغلو نو ودريدلو، د هغوئي خبرې يـې اوريدلې، څهٔ خبرې کيدلې: ❁ يو صحابي رضی اللہ عنہ وه وئيل: څومره عجيبه خبره ده: الله پاک حضرت ابراهيم علیہ السّلام خپل خليل جوړ کړے

---

[1] ...وسائلِ بخشش، صفحه:348 ملتقطاً۔

دے ❁ دويم وه وئيل: څومره د حيرانتيا خبره ده چې الله پاک حضرت موسیٰ عَلَيهِ السَّلَام کليم جوړ کړے دے ❁ دريم وه وئيل: څومره د حيرانتيا خبره ده، الله پاک حضرت عيسیٰ عَلَيهِ السَّلَام رُوحُ الله او کلمةُ الله جوړ کړے دے ❁ څلورم صحابي وه وئيل: څومره د حيرانتيا خبره ده، الله پاک حضرت آدم عَلَيهِ السَّلَام صَفِيُّ الله جوړ کړے دے۔

د دې خبرو اوريدو نه پس خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف راوړلو، اوئې فرمائيل: اے زما صحابؤ! ما ستاسو ټولې خبرې واوريدلې۔ تاسو وايئ: ❁ ابراهيم عَلَيهِ السَّلَام د الله پاک خليل دے، يقيناً هغهٔ هم د دې شان والا دے ❁ تاسو وايئ: موسیٰ عَلَيهِ السَّلَام کليمُ الله دے، يقيناً چې هغهٔ د دې شان والا دے ❁ تاسو وايئ: عيسیٰ عَلَيهِ السَّلَام رُوحُ الله دے، آؤ! هغهٔ د دې شان والا دے ❁ تاسو وايئ: آدم عَلَيهِ السَّلَام صَفِيُّ الله دے، آؤ! آؤ! د هغوئي هم دا شان دے اَلَا وَ اَنَا حَبِيْبُ اللهِ وَ لَا فَخَرَ يعني اے زما صحابؤ واورئ! زهٔ د الله پاک حبيب يم، زهٔ دا خبره د فخر پهٔ طور نه کووم ❁ د قيامت پهٔ ورځ به د حمد جنډا زما پهٔ لاس کښې وي، زهٔ دا خبره د فخر پهٔ طور باندې نه کووم ❁ د قيامت پهٔ ورځ به د ټولو نه وړومبے شفاعت هم زهٔ کووم ❁ هم زما شفاعت به د ټولو نه مخکښې قبليږي، زهٔ دا خبره د فخر پهٔ طور باندې نه کووم ❁ نور يې وفرمائيل: اَنَا اَکْرَمُ الْاَوَّلِيْنَ وَ الْاٰخِرِيْنَ وَلَا فَخَرَ زهٔ د مخکښينو، وروستنو، د ټولو نه زيات عزت والا يم خو دا خبره د فخر پهٔ طور باندې نه کووم۔ (1)

| | |
|---|---|
| الله نے مَحبُوب کو بے مثل بنایا | ممکن ہی نہیں ہو کوئی ہم شانِ مُحَمَّد |
| مخلوق کو معلوم ہو کیا اُن کی حقیقت | رَبّ جانتا ہے شانِ مُحَمَّد |

---

[1]…ترمذی، ابواب المناقب عن رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ آلِهٖ وَسَلَّم ، صفحه:827، حديث:3625 ـ

| | |
|---|---|
| محبوبِ خُدا، حاکمِ مخلوقِ اِلٰہی | مخلوقِ خُدا تابعِ فرمانِ مُحَمَّد[1] |

**وضاحت:** اللّٰه پاک خوږ آقا صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم داسې بے مثاله جوړ کړو چې د هغوئي پۀ شان بل څوک کیدل هډو ممکن نه دي، د رسول اللّٰه صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم شان به مخلوق ته څۀ معلوم وي؟ د هغوئي حقیقي شانونه خو رَبّ ته معلوم دي، خوږ آقا صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د اللّٰه پاک د مخلوق حاکم دے، ټول مخلوق د هغوئي د خبرې منلو پابند دي۔

## نور دي د بهر دوستان

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** پۀ دې ځائے کښې خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ ټولو نبیانو باندې خپل فضیلت بیان کړو، د دې نه معلومه شوه چې صَفِيُّ اللّٰه کیدل هم لوئے شان دے، خَلیلُ اللّٰه کیدل هم لوئے شان دے، کَلیمُ اللّٰه کیدل هم لوئے شان دے، رُوحُ اللّٰه کیدل هم لوئے شان دے خو حبیبُ اللّٰه کیدل د ټولو نه لوئے شان دے۔

پۀ ټول مخلوق کښې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم څۀ شان دے دا اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ داسې بیان کړے دے:

| | |
|---|---|
| مغز ہو تم اور پوست اور ہیں باہَر کے دوست | تم ہو درونِ سَرا تم پہ کروڑوں دُرود[2] |

**وضاحت:** اګر چې مغز او پوستکے یوځائے شي نو میوه وغیره جوړیږي خو د مغز اهمیت د پوستکي نه زیات وي، اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: یا رسولَ اللّٰه صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

---

1…قبالۂ بخشش، صفحه:130، 131 ملتقطاً۔

2…حدائقِ بخشش، صفحه:265۔

ستاسو مثال پهٔ دې جهان کښې د مغز پهٔ شان دے، او نور د پوستکي پهٔ شان دي، باقي ټول بهر والا دي، تاسو کور والا يئ، تاسو د الله پاک د رازونو راز دار يئ، پهٔ تاسو دې پهٔ کروړونو درودونه وي۔

سُبْحٰنَ الله! څومره پهٔ ساده الفاظو کښې يې پهٔ خبره باندې پوهه کړو، مطلب دا دے چې څوک حبيب وي، خاص پهٔ تنهايئ کښې هم هغهٔ د ځان سره ساتلے شي، بِلا تمثيل (يعنې صرف د پوهه کولو د پاره عرض کووم) الله پاک ❀ د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام سره کلام وفرمائيلو، پهٔ پرده کښې يې وفرمائيلو ❀ حضرت نُوح عَلَيْهِ السَّلَام ته وحي راغله، د فرښتے پهٔ ذريعه راغله ❀ حضرت ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام ته وحي راغله، د فرښتے پهٔ ذريعه راغله ❀ د حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام سره يې کلام وفرمائيلو، پهٔ پرده کښې يې وفرمائيلو ❀ حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام ته وحي راغله، د فرښتے پهٔ ذريعه راغله، خو دا محبوبِ ذيشان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے چې الله پاک د معراج پهٔ شپه خاص پهٔ تنهايئ کښې راوغوښتو او خپل ديدار يې هم ورکړو، د پردے نه بغير د کلام شرف يې هم ورعطا کړلو۔

طور پہ کہا ربّ نے لَنْ تَرَانِی اے موسیٰ! | مگر میرے آقا کو عرش پہ بلایا ہے

## هُم ستاسو د خبرو بيانولو د پاره راغلل

د الله پاک نبي حضرت عيسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام ډير د اوچت شان والا نبي دے، الله پاک پهٔ قرآنِ کريم کښې وفرمائيل، د هغوئي دا شان وو چې پيدائشي ړوند له چې به يې لاس وروړلو نو د سترګو نُور(بينائي) به يې ورعطا کولو ❀ د برګي پهٔ رنځ کښې اخته له چې به يې لاس وروړلو نو حُسن او جمال به يې ورعطا کړلو ❀ د خاورې نه جوړې شوې

مرغۍ له چې به يې پوکے ورکړلو نو حقيقي مرغۍ به ترې جوړه شوه ❀ د غيبو خبرونه به يې بيانول ❀ مړي به يې راژوندي کول، دومره د اوچت شان والا نبي وو۔

چې کله حضرت عيسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام د نبوت اِظهار وفرمائيلو او داسې معجزې يې وښودلې نو چا د هغوئي نه پوښتنه وکړه: اَ اَنْتَ هُوَ الْاٰتِيُّ الْمُنْتَظَرُ يعنې تاسو داسې لوئے معجزې ښايئ، چرته تاسو خو هغه آخرُ الزَّمان نبي نۀ يئ، د چا د راتللو انتظار چې د صدو نه کيږي؟
حضرت عيسىٰ عَلَيْهِ السَّلَام جواب ورکړو، ډيره ايمان تازه کوونکې خبره ده، اوئې فرمائيل: نۀ--!! زۀ هغه محبوب نۀ يم، زۀ خو د هغوئي د زيرې ورکولو د پاره راغلے يم، البته! زۀ د الله پاک پۀ عطا سره ❀ ړندو ته شفا ❀ پۀ مرګي رنځ کښې اختوو ته حُسن او جمال ❀ او د مړو د بيا راژوندي کولو د پاره راغلے يم د پاره د دې چې خلق پۀ ما باندې يقين وکړي او پوهه شي چې د راتللو د زيرې ورکولو والا شان دومره دے نو ځکه به د راتلونکي د شان څۀ حالت وي--؟ (1)

وہ خَتْمُ الْاَنبیا تشریف فرما ہونے والے ہیں
نبی ہر ایک پہلے سے سُناتا یہ خبر آیا

سُبْحٰنَ الله! دا دے د حبيب او د خليل فرق--!! ❀ دا دے د حبيب او د کليم فرق--!! ❀ دا دے د حبيبُ الله او رُوحُ الله فرق--!! ❀ صَفِيُّ الله هغۀ دے خوک چې د هغوئي پاک نوم ښکلوي او پۀ سترګو يې پورې کوي ❀ خليلُ الله هغۀ دے خوک چې د هغوئي د راتللو دعاګانې کوي ❀ کليمُ الله هغۀ دے خوک چې د هغوئي د اُمَّتي کيدلو خواستونه کوي ❀ رُوحُ الله هغۀ دے خوک چې د هغوئي د راتللو زيرې ورکوي ❀ او حبيبُ الله هغۀ دے خوک چې د هغوئي شانونه زياتوي، اِمامُ الانبيا تشريف راوړي۔

---

1 ...نظم الدرر، پاره:7، سورۀ مائده، زيرِ آيت:111، جلد:6، صفحه:343، 344 مفصلاً۔

## د رسالت د شان ځانګړتیا

سیدي اعلیٰ حضرت رحمۃُاللہِ علیہ هم څهٔ ښکلي لیکلي دي:

| | |
|---|---|
| سب سے اَوّل سب سے آخر | ابتدا ہو انتہا ہو |
| تھے وسیلے سب نبی تم | اَصلِ مَقصودِ ہدیٰ ہو |
| پاک کرنے کو وُضو تھے | تم نمازِ جانفزا ہو |
| سب بشارت کی اَذاں تھے | تم اَذاں کا مُدّعا ہو |
| قُربِ حق کی منزلیں تھے | تم سفر کا مُنتہیٰ ہو |
| سب تمہارے دَر کے رستے | ایک تم راہِ خُدا ہو |
| سب کی ہے تم تک رسائی | بارگہ تک تم رسا ہو (1) |

وضاحت: ❀ یا رسولَ الله صلَّی اللہ علیہِ والہٖ وسلَّم! د ټولو نه وړومبے نبي هم تاسو یئ چې لا د آدم علیہِ السّلام تخلیق هم نه وو شوے چې تاسو ته نبوت عطا کړے شوے وو، آخري نبي هم تاسو یئ، د نبوت او د رسالت ابتداء هم تاسو یئ، انتها هم تاسو یئ ❀ ټول نبیان وسیلې وې، د هدایت اصلي مقصود تاسو صلَّی اللہ علیہِ والہٖ وسلَّم یئ ❀ لکه څنګه چې نمونځ کوې نو وړومبے به اودس کوې، هم داسې چې وړومبے خومره هم نبیانو تشریف راوړلو، ټول لکه چې اودس وو کومو چې مخلوق پاکولو، رسول الله صلَّی اللہ علیہِ والہٖ وسلَّم لکه چې هُغه نمونځ دے د کوم د پاره چې اوسه پورې زمانې له اودس ورکولے شو ❀ ټول نبیان هم د زیرې ورکولو د پاره راتلل، ټول نبیان خپلو اُمتونو ته د دې وئیلو د پاره راتلل چې اے خلقو! ډیر زر یو نبي تشریف راوړونکے دے، یا رسولَ الله! ټولو نبیانو چې د چا د راتللو

---

1 ... حدائق بخشش، صفحہ: 341-342 ملتقطًا۔

اعلان کولو، تاسو د هغې اِعلان مُدعا يئ ❀ لکه څنګه چې چرته لرې په سفر تلل وي نو د ډېرو ځايونو نه تيريدل وي، په ډېرو ځايونو کښې ايساريدل وي، هم داسې يا رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! د الله پاک د قُرب په سفر کښې د ټولو انبيائے کرامو عَلَيۡهِمُ السَّلَام لکه چې د لارې منزلونه وو، يا رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تاسو د هغه سفر آخري منزل يئ ❀ ټول نبيان د دې وئيلو د پاره راغلل چې يو نبي صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم تشريف راوړونکے دے، زمونږ د ټولو نه په هغوئي باندې د ايمان راوړلو وعده اخستے شوې ده، اے خلقو! تاسو که د هغوئي زمانه بيامومئ نو په هغوئي باندې ايمان راوړئ- يعنې ټول ستاسو د در لاره ښائي، تاسو يئ کومه چې د الله پاک لاره ده-

## د صفاتِ اِلٰهی مظهر

په ترمذي شريف کښې روايت دے، علمائے کرامو چې د دې روايت کومه تشريح بيان کړې ده، د هغې تشريح په رڼا کښې زۀ تاسو ته دا روايت بيانوم- صحابئ رسول دے: حضرت ابو رَزِين رَضِیَ اللهُ عَنۡهُ- هغوئي د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې حاضر شو، پوښتنه يې وکړه: اَيۡنَ كَانَ اللّٰهُ قَبۡلَ اَنۡ يَّخۡلُقَ خَلۡقَهٗ يعنې يا رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ❀ اوس دا جهان موجود دے، ټول کائنات موجود دے، د دې په ذره ذره کښې د الله پاک د قدرتونو او صفاتو اِظهار په نظر راځي، اوچتو اوچتو غرونو ته چې وګورې نو د الله پاک قدرت راياد شي ❀ د وړو وړو ميږانو نه تر د هاتيانو پورې غټو غټو ځناورو ته چې وګورې نو دې ټولو ته رزق ميلاويږي، په دې کښې د الله پاک د رازق کيدلو د صفت اظهار په نظر راځي ❀ د مور محبتونو ته چې وګورې، د پلار شفقتونو ته وګورې، د الله پاک د رحمتونو اِظهار پکښې په نظر راځي، ❀ غرض دا چې په ټولو

مخلوقاتو کښې د الله پاک د صفاتو تر څۀ نا څۀ حده پورې اِظهار پۀ نظر راځي خو پوښتنه دا ده چې ❀ کله دا زمکه هم نه وه ❀ اسمان هم نه وو ❀ مخلوقات هم نه وو ❀ انسانان، پيريان او فرښتے هم نه وې ❀ هيڅ هم نه وو، صرف د الله پاک ذات وو، يا رسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! هُغه وخت د الله پاک د صفاتو اِظهار چرته کيدلو؟

پوښتنه ډيره نا اشنا ده، ډيره خوندوره هم ده، معلوماتي هم ده، اوس جواب واورئ! رسولِ ذيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: كَانَ فِيْ عَمَاءٍ يعنې ❀ چې کله دا زمکه نه وه ❀ اسمان نه وو ❀ څۀ بَل مخلوق نه وو ❀ هُغه وخت يو د وريځې پۀ شان څيز وو، د الله پاک د صفاتو اِظهار پۀ هغې کښې کيدلو۔

هُغه د وريځې پۀ شان څيز څۀ وو؟ علمائے کرام فرمائي: هغۀ د محبوبِ ذيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نُور وو، پۀ دې کښې د رَبِّ کريم د ټولو صفاتو ظهور وو۔ [1]

تم سے خُدا کا ظہور، اس سے تمہارا ظہور | لِمْ ہے یہ، وہ اِنْ ہوا، تم پہ کروڑوں درود [2]

**وضاحت:** دا ډيره باريکه خبره ده، يو وي: دليلِ لمّی او بَل وي: دليلِ اِنِّی۔ زۀ دا پۀ مثال سره لږ شان اسانووم او د پوهه کولو کوشش کووم، داسې وګڼئ چې د لرې نه چرته تاسو ته لوګے پۀ نظر راشي نو تاسو فوراً پوهه شئ چې چرته وور لګيدلے دے۔ حالانکې تاسو وور نه وي ليدلے، لمبې مو نه وي ليدلي، چا درته وئيلي نه وي، تاسو صرف لوګے وليدلو او پوهه شوئ چې وور لګيدلے دے۔ داسې چې چرته مونږ لمبه شوے وور ووينو نو پوهيږو

---

[1] …مجموع لطيف اُنسی، رسالة: اعلام جهال بحقيقة الحقائق باسنة نصوص كلام سيد الخلائق، صفحه:19، 20۔

[2] …حدائقِ بخشش، صفحه:267۔

چې وور شته نو لوګے به هم وي، مثال طور نن سبا خو څغه دور نه دے، بیا که هم مونږ په کور کښې شمع لګوو نو په احتیاط سره یې لګوو چې هسې نه د شمعې په وجه دیوال تور نه شي، یعني مونږه ګنو، پوهیږو چې د وور په وجه خو به لوګے وي- یعني دا دوه اړخونه دي: **(1)**: د لوګي د لیدلو سره مو وور وپیژندلو، دې ته وائي: **دلیلِ لمّی**- **(2)**: دویم اړخ دے: د وور د لیدلو سره لوګے پیژندل، دې ته وائي: **دلیلِ اِنّی**-

سرکار اعلیٰ حضرت رحمۃُ اللہِ علیہ فرمائي:

تم سے خُدا کا ظہور، اس سے تمہارا ظہور
لِمّ ہے یہ، وہ اِن ہوا، تم پہ کروڑوں درود

**یعني**: اے خوږه محبوبه صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم ! رَبِّ کریم تاسو دومره بے مثاله او با کماله جوړ کړي یئ چې ستاسو شانونه ولولم نو د رَبّ په توحید پوهه شم او د رَبّ رحمان په توحید باندې چې پوره پوهه شم نو ستاسو په شان او په عظمت باندې پوهه شم-

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** ❁ دا دے د حبیب او د خلیل فرق--!! ❁ دا دے د حبیب او د کلیم فرق ❁ د حبیب الله او د رُوحُ الله فرق--!! د حضرت آدم علیہِ السّلام نه تر د حضرت عیسیٰ علیہِ السّلام پورې ټول انبیائے کرام علیہِمُ السّلام ❁ د اوچتو شانونو والا دي ❁ د اوچتو مرتبو والا دي، خو قربان شم! د محبوب صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم شان څۀ دے؟ د دې انبیائے کرامو علیہِمُ السّلام رُوحونه لا هم نه وو تخلیق شوي، د هغې نه مخکښې د محبوبِ اکرم صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم نُور مبارک د الله پاک د ټولو صفاتو مظهر جوړ شوے وو-

تُو ہے خورشیدِ رسالت پیارے، چھپ گئے تیری ضیا میں تارے
انبیا اور ہیں سب مہ پارے، تجھ سے ہی نور لیا کرتے ہیں[1]

---

[1]...حدائقِ بخشش، صفحہ:112۔

## د ټولو جهانونو نبي

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د محبوبِ ذيشان، مکي مَدَني سلطان صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم يو شان الله پاک دا هم بيان کړو، ارشاد دے:

لِيَكُوْنَ لِلْعٰلَمِيْنَ نَذِيْرَا ۙ﴿۱﴾ (پاره:18 سورۂ فرقان:1) | [مفهوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان: چې هغهٔ ټول جهان ته ويره اوروونکے شي-

د دې آيت مبارک نه ثابته شوه چې محبوبِ ذيشان، مکي مَدَني سلطان صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم د ټولو جهانونو نبي دے، په دې کښې د محبوبيت د شان اظهار دے، اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ ليکي: چې کار څومره لوئے وي، د هغې ذمه واري هم هُغه همره ذيشان ته ورکولے شي، الله پاک خپل ټول انبيائے کرام علیہم السّلام د يو يو قوم، يوې يوې سيمې نبي جوړ کړو خو محبوبِ ذيشان صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم ته يې دا شان عطا کړلو چې څومره مخلوقات دي، څومره جهانونه دي، رسول الله صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم يې د ټولو نبي جوړ کړلو، د دې نه معلومه شوه چې په يوه سيمه او ټولو جهانونو کښې چې څومره فرق دے، د محبوبِ کريم صلَّی اللہ علیہ والہٖ وسلَّم شان د دې ټولو نبيانو د شان نه هُم هُغه همره زيات دے-[1]

## د نبي او اُمَّتي بنيادي فرق

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! امام فَخرُ الدِّين رازي رحمۃ اللہ علیہ ډير ښکلے تحقيق کړے دے، ليکي: (اګر چې نبوت کسبي نه دے، په اعمالو نشي حاصليدے، دا خاص د الله پاک انتخاب دے، البته) رَبِّ کريم چې څوک د نبوت د پاره منتخب کوي، دا ضروري ده چې هغهٔ په روحاني قوتونو کښې هم او په جسماني قوتونو کښې هم په خپل اُمَّت باندې اَرفع

---

[1]...فتاویٰ رضويه، جلد:30، صفحه:145، 146 ملخصاً-

او اعلیٰ وي، لهٰذا ❀ انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام ته رفتار هم د اُمَّت د رفتار نه زيات عطا وي ❀ انبيائے کرامو عَلَيهِمُ السَّلام ته د ليدلو طاقت هم د اُمَّت نه زيات ورکولے شي ❀ د اوريدو طاقت هم د ټولو نه زيات عطا کولے شي ❀ د څَکولو طاقت ❀ د بوئي کولو طاقت ❀ د محسوسيدلو طاقت ❀ دغه شان د عقل ❀ پوهې او فراست او ❀ د پوهيدلو طاقت هم پهٔ دوئي کښې د ټول اُمَّت نه زيات وي ❀ بيا د دې سره سره د دوئي رُوح هم د ټولو خلقو نه زيات پاک، صفا او لطيف وي-(1)

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا د پوهې خبره ده، خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ❀ د ټولو جهانونو نبي دے ❀ د فرښتو هم نبي دے ❀ د نبيانو هم نبي دے ❀ د رسولانو هم نبي دے ❀ د ټولو مخلوقاتو نبي دے، دا ټول د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُمَّتيان دي او مونږه واوريدل چې د نبي د ليدلو طاقت د اُمَّت نه زيات وي ❀ د څَکولو طاقت ❀ د بوئي کولو طاقت ❀ د محسوسولو طاقت ❀ دغه شان د عقل ❀ پوهې او فراست او ❀ د پوهيدلو طاقت د ټولو نه زيات وي او ❀ د نبي رُوح د اُمَّت د رُوح نه ډير زيات پاک او لطيف وي-

د دې نه معلومه شوه چې پهٔ ټولو مخلوقاتو کښې ❀ چې څنګه سترګې محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته ورکړے شوې دي، هُغسې سترګې چا ته هم نه دي ورکړے شوې ❀ لکه څنګه غوږونه مبارک چې هغوئي ته عطا کړے شوي دي، هُغسې چا ته هم نه دي ورکړے شوي ❀ چې څنګه د بوئي کولو طاقت نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته عطا کړے

---

1 ···تفسيرِ کبير، پاره:3، سورۀ آل عمران، زيرِ آيت:33، جلد:3، صفحه:199، 200 ملخصاً-

شوے دے، داسې نبيانو او فرښتو ته هم نه دے عطا کړے شوے ❀ چې څنګه د محسوسولو طاقت رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته عطا کړے شوے دے، داسې نبيانو او فرښتو ته هم نه دے ورکړے شوے ❀ چې څنګه عقل هغوئي ته عطا شولو، داسې چا ته هم ورنکړے شو ❀ چې څنګه رُوحِ مقدس هغوئي ته عطا کړے شوے دے، داسې رُوحِ مقدس هم د بَل چا نشته-

راځئ چې د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې خصوصي شانونو څۀ لږ شان بيان واورو:

## (1): د محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رفتار مبارَک

د ټولو نه وړومبے د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رفتار مبارک ته وګورئ! مونږ ته معلومه ده چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د شپې په يوه مختصره حصه کښې معراج له تشريف يوړلو او بيا يې واپس هم تشريف راوړلو، وخت څومره تير شوے وو، لا بستره مبارکه يې ګرمه وه، د دروازے کُنډه لا خوزيدله، د اودس اوبه بهيدلې-

دا رفتار مبارک څومره جوړيږي، د دې مونږه سرسري جائزه اخلو او ګورو- اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ❀ د زمکې نه د سِدرَةُ المنتهیٰ فاصله 50 زره کاله لار ده ❀ د دې نه پس مُستَویٰ ❀ د هغې نه پس الله پاک ته معلومه ده ❀ د هغې نه پس د عرش 70 حجابونه دي ❀ د هر يو حجاب نه تر بَل حجابه پورې 500 کاله فاصله ده ❀ دا ټوله 35 زره کاله فاصله شوه ❀ 35 زره کاله لاره دا ❀ 50 زره کاله لاره د زمکې نه تر سِدرَةُ المنتهیٰ پورې دا ټوله 85 زره کاله فاصله شوه

❁ بیا د سِدرَۃُ المنتھیٰ نه د عرش د حجابونو پورې څومره فاصله ده دا چا ته معلومه نه ده- راځئ چې مونږ د ټولو نه په وړو مزل کوم چې به ښخوا په اوښانو وغیره باندې کیدلو، د هغې اندازه لګوو، د اوسنی اندازې مطابق ښخوا زمانه کښې به چې په آرام سره کوم سفر کیدلو، په درېو ورځو کښې به 92 کلومیټره وو- که د دې 85 زره کاله سفر مونږ سرسري حساب وکړو نو دا ټول 95 کروړه، 14 لاکهه او تقریباً 34 زره کلومیټره سفر جوړیږي- دا مونږه د یو اندازې مطابق د ټولو د وړو مزل حساب وکړو-

اوس وګورئ! په دې سائنسي دور کښې د ټولو نه تیز رفتاره چې کوم څیز منلے کیږي هغه رڼا ده- رڼا په یو سیکنډ کښې 3 لاکهه کلومیټر سفر کوي، اوس به 95 کروړه کلومیټره سفر رڼا په څومره وخت کښې کوي؟ د دې حساب چې وکړې نو رڼا به تقریباً دومره سفر په 53 منټو کښې کوي- بیا خو واپس هم راتلل دي نو دا به 106 منټه شي-

اَللّٰهُ اَکْبَر! دا سرسري حساب دے، د دُنیا د ټولو نه تیز رفتاره څیز چې پرله پسې روان وي نو چې کوم سفر هغه تقریباً په 2 ګینټو کښې کوي، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صرف دومره نۀ بلکې د دې نه هم زیات سفر په آرام آرام سره وکړو ❁ په لاره کښې ایساریدلو هم ❁ نمونځونه یې هم کول ❁ کله د نبیانو امامتي کوي ❁ کله د فرښتو امامت کوي ❁ دغه شان یې په آرام آرام سره سفر وکړو، بیا یې واپس هم تشریف راوړلو خو رفتار ته یې وګورئ! لا بستره مبارکه یې ګرمه ده، د دروازے کُنډه لا خوزیږي، یعني د دُنیا د ټولو نه تیز رفتاره څیز چې کوم سفر په 2 ګینټو کښې کوي، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې نه ډیر زیات سفر وکړو او په یو څو سیکنډو

کښېږي يــې واپس هم تشريف راوړلو-

سُبْحٰنَ الله! اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیه خومره ښه وئيلي دي---!! ليکي:

شانِ خدا! نہ ساتھ دے، اُن کے خِرام کا وہ بَاز
سِدْرَہ سے تا زمیں جسے نَرْم سی اِک اُڑان ہے[1]

**وضاحت:** په نرمو نرمو ښپو باندې، په ناز او ادا سره تللو ته خِرام وئيلے شي، اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیه فرمائي: د مِعراج په شپه سرکارِ عالي وقار، د مدينے تاجدار صلّی الله علیه واٰله وسلّم خو خِرام فرمائيلو، په نرمو نرمو ښپو باندې يــې په ناز او ادا سره لکه څنګه چې د واده ځلمے ځي، داسې روان وو خو د خدائے شان ته وګورئ! د دې باوجود شهباز يعنې حضرت جبريل علیه السّلام څوک چې په لږ وخت کښې د سِدرَه نه زمکې، د زمکې نه سِدرَه ته رَسي، د چا چې خپل الوتل دومره د کمال دي، هغهٔ د مصطفٰے جانِ رحمت صلّی الله علیه واٰله وسلّم د خِرامِ ناز سره نشو تللے، که حضور صلّی الله علیه واٰله وسلّم خپل نُوراني او نبوي مزل کولو نو بيا به د هغې رفتار څهٔ حالت وو---؟

## د وجود مبارک لطافت

بيا په دې ځائے کښې د وجود مبارک لطافت ته هم غور وکړئ! مونږ څو کرته اوريدلي دي، **په روايتونو کښې موجود دي** چې د معراج په شپه چې کله خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلّی الله علیه واٰله وسلّم سِدرۃُ المنتهیٰ ته ورسيدلو نو حضرت جبريلِ امين علیه السّلام ودريدلو، ارشاد يــې وفرمائيلو: جبريله! مخکښې ولې نه ځې؟ عرض يــې وکړو: لَوْ دَنَوْتُ اُنْمُلَةً لَاِحْتَرَقْتُ يعنې يا رسول الله صلّی الله علیه واٰله وسلّم! که چرې زهٔ د يوې ګوتې برابر هم

1 ...حدائقِ بخشش، صفحہ:179۔

مخکښې لا ړم نو زۀ به وسوزم، ځکه زۀ ایساریږم، تاسو تشریف یوسئ! [(1)]

**سُبْحٰنَ الله!** د سوچ خبره ده- حضرت جبریلِ امین عَلَیْهِ السَّلَام سراسر نُور دے، هغوئي د نُور نه پیدا شوي دي، وړاندې چې چرته تلل دي، هلته هم د نُور جلوې دي خو هُغه جلوې داسې دي چې د فرښتو سردار حضرت جبریلِ امین عَلَیْهِ السَّلَام د یوې ګوتې برابر هم د هُغې جلوې طرف ته وړاندې ځي نو سوزي خو قربان شم! محبوبِ ذیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ روحاني طور نۀ بلکې د پاک وجود سره وړاندې ځي، د هُغه نُور جلوې د هغوئي وجود مبارک خو غټه خبره ده، د هغوئي پۀ بدن مبارک د اغوستے شوو جامو یو تار ته هم نقصان نه رسوي- معلومه شوه چې جبریلِ امین عَلَیْهِ السَّلَام ځوک چې رُوحُ القدُوس دے، ځوک چې سراسر نُور دے، د هغوئي پۀ نُور کښې هُغه لطافت نشته، کوم لطافت چې د محبوبِ ذیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ وجود مبارک کښې موجود دے- چې دا د وجود د لطافت حالت دے نو سوچ وکړئ چې د رُوح مبارک د لطافت حالت به یے څۀ وي---؟

## (2-3): د اوریدلو او لیدلو طاقت مُبارَک

د حدیثِ پاک پۀ مشهورو کتابونو ترمذي، اِبنِ ماجه او مسند امام احمد کښې روایت دے: یوه ورځ سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائیل: بے شکه زۀ هُغه وینم، کوم چې تاسو نشئ لیدلے، زۀ هُغه اورم، کوم چې تاسو نۀ اورئ- بے شکه اسمان وچغیدو او د هغه حق دے چې وچغیږی ځکه چې پۀ اسمان کښې د څلورو ګوتو برابر هم داسې ځائے نشته، چرته چې یوه فرښته تندے نه ږدي او د رَبِّ کریم پۀ حضور کښې

---

[1]...شرح الشفاء للملا علی قاری، الباب الثالث...الخ، فصل و اما ما ورد...الخ، جلد :1، صفحہ:440۔

سجده نه کوي۔ [1]

سُبْحٰنَ اللّٰه! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! ورومبے خو د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د نظر کمال ته وګورئ! زمکه خو زمکه ده، اسمان د زمکې نه څو چنده غټ دے او سرکار عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د زمکې نه د اسمان مشاهده کوي او وګورئ! څومره ژوره مشاهده کوي چې پۀ اسمان کښې د څلورو ګوتو برابر حصه هم داسې نشته کومه چې د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نۀ پناه وي، رسولِ رحمت، شفيع اُمَّت صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د زمکې نه وينې چې پۀ اسمان کښې د څلورو ګوتو برابر هم داسې خالي ځائے نشته چرته چې يوه فرښته تندے نه ږدي او د رَبِّ کريم پۀ حضور کښې سجده نه کوي۔

بيا د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اوريدو کمال ته هم وګورئ! اسمان د دې ځائے نه پۀ زرګونو کلوميټره لرې دے، زمونږ پۀ شان عام انسانان خو پۀ بله کمره کښې د ناستو خلقو اواز هم نه اوري او د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم غوږونه مبارک داسې دي چې پۀ زمکه کښې پۀ زرګونو کلوميټره لرې د اسمان د چغيدو اواز هم اوري۔

دُور و نزدیک کے سننے والے وہ کان | کانِ لعلِ کرامت پہ لاکھوں سلام [2]

**وضاحت:** د خوږ آقا، د مدينے والا مصطفٰے صَلَّى اللّٰه عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د غوږونو مبارکو دا معجزه ده چې د لرې او نزدې نه يو شان اوري، داسې مبارک غوږونه کوم چې د عزت او د عظمت د لعلونو سر چينه ده، پۀ هغه مبارکو غوږونو باندې دې پۀ لکونو سلامونه وي۔

---

[1]…ترمذی، کتاب الزہد، باب فی قول النبی: لوتعلمون ما اعلم، صفحہ :554،حديث:2312۔

[2]…حدائقِ بخشش، صفحہ :300۔

## (4): د ځکلو طاقت مُبارَک

پهٔ **ابوداؤد شریف** کښې حدیثِ پاک دے- یو ځل یوې صحابیه رضی اللہ عنہا خوږ آقا صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم ته دعوت ورکړلو، هغوئي د صحابهٔ کرامو رضی اللہ عنہم سره د هغې کور ته تشریف یوړلو، خوراک حاضر کړے شو، رسول الله صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم **بِسمِ الله** وکړه او نمړۍ یې واخستله، هغوئي ته چې یې وکتل نو صحابهٔ کرامو هم خوراک ته لاس کړلو! نمړۍ یې پهٔ خُله کړې- خو ناڅاپه یې نظر شو چې نبي کریم صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم هٰغه یوه نمړۍ پهٔ خُله مبارکه کښې اړوي را اړوي، تیروي یې نهٔ، لږ وخت پس یې وفرمائیل: اَجِدُ لَحمَ شَاۃٍ اُخِذَتْ بِغَیْرِاِذْنِ اَھْلِھَا دا د هٰغه چیلۍ د غوښې خوند دے، کومه چې د مالک د اجازت نه بغیر ذبح کړے شوې ده- دا یې چې واوریدل نو صحابه کرام رضی اللہ عنہم هم منع شول- دعوت کوونکې صحابیه یې راوبلله- پوښتنه یې وکړه: چیلۍ د چرته نه راغلې وه؟ عرض یې وکړو: یا رسولَ الله صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم! ما د چیلۍ اخستو د پاره څوک لیږلي وو خو چیلۍ میلاؤ نه شوه، ما خو تاسو له دعوت درکړے وو، ځکه ما خپلې ګاؤنډۍ ته پیغام ولیږلو چې قیمت واخله او خپله چیلۍ ما له راکړه! قِسمت مې داسې وو چې ګاؤنډې پهٔ کور کښې نه وو، د هغهٔ کور وداني د هغهٔ د اجازت نه بغیر ما له چیلۍ راکړله- دا چیلۍ خو پهٔ جائزه ذریعه اخستے شوې ده خو د دې اصلي مالک (یعنې د ګاؤنډۍ د خاوند) نه اجازت نه دے اخستے شوے- [(1)]

اَللّٰہُ اَکْبَر! د ځکلو طاقت ته وګورئ! مونږ چې یوه نمړۍ خُلې ته کړو ❀ هٰغه نمړۍ ګرمه ده که یخه، مونږ ته به پته ولګي ❀ مزیداره ده که نه ده، مونږ به پوهه شو ❀ مالګه کمه ده که زیاته ده، د دې به هم مونږ ته پته ولګي ❀ که څوک پوهه پخلي والا وي نو کیدے شي چې هغهٔ پهٔ دې هم پوه شي چې پهٔ خوراک کښې څهٔ څهٔ شامل کړے شوي

---

1 ...ابو داود، کتاب البیوع، باب فی اجتناب الشبہات، صفحہ:536، حدیث:3332۔

دي خو عجيبه خبره دا نه ده چې خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم نمرئ خُلې ته کوي، په ژبه مبارکه باندې يې څڅې نو د هغې صرف خوند نهٔ، ګرمه ده که يخه ده دا نهٔ بلکې دا ورته هم پته لګې چې دا کومه چيلئ چې ذبح کړے شوې ده، اينګولے ترينه پوخ کړے شوے دے، دا چيلئ د دې د مالک د اجازت نه بغير ذبح کړے شوې وه يا بغير د اجازت نه حاصله کړے شوې وه- سُبْحٰنَ الله! دا دے د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم د څکلو طاقت---!!

## (5): د محسوسولو طاقت مُبارَک

اوس لږ د محسوسولو په طاقت باندې غور وکړئ! حضرت سعد بن ابي وقاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مشهور صحابئ رسول دے، په عَشَرَه مُبَشَّرَه (يعنې د جنّت په زيري موندونکو صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم) کښې دے، فرمائي: يو ځل زهٔ بيمار شوم، خوږ نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّد عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم د تپوس د پاره تشريف راوړلو-

صحابه کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُم خومره خوش قِسمته وو، چې کله به ناروغه شول نو د دواړو جهانونو تاجدار به يې د تپوس د پاره تشريف راوړلو---!!

| | |
|---|---|
| سرِ بالیں انہیں رحمت کی ادا لائی ہے | حال بگڑا ہے تو بیمار کی بن آئی ہے |

حضرت سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم زما په سينه باندې لاس کيښودلو، داسې با کماله لاس---!! د هغې يخ والے ما په زړهٔ کښې محسوس کړو-

کاش چې دا سعادت چرته زمونږ د غلامانو هم نصيب شي---!!

| | |
|---|---|
| دِل کرو ٹھنڈا مرا، وہ کفِ پا چاند سا | سینے پہ رکھ دو ذرا تم پہ کروڑوں درود |

خير چې د حضرت سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په سينه باندې يې لاس کيښودلو نو بيا يې

وفرمائیل: ستا د زړهٔ مرض دے، د حارِث ثَقَفِي خوا له لاړ شه! هغهٔ طبیب دے، هغوئي ته ووایه چې عجوه کجوره سره د هډوکي وټکوي او تا له یې درکړي- د دې سره به دې آرام نصیب شي- (1)

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دلته غور وکړئ! اوس سائنسي دور دے، جدید ټیکنالوجیز راغلي دي د دې باوجود چې کله څوک د زړهٔ مریض شي نو څهٔ کوي؟ د ټولو نه وړومبے E.C.G کیږي، د دې نه پته ولګي چې زړهٔ بیمار هم دے که نه دے- که رپورټ راشي نو که پهٔ زړهٔ کښې څهٔ مسئله وي نو اِیکو کولے شي، انجیو ګرافي کولے شي، بیا پته لګي چې پهٔ زړهٔ کښې څهٔ مسئله ده- بیا د دې نه پس علاج شروع شي، قربان شم! د دوارو جهانونو د طبیب صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه څومره ځانګړے شان یې دے- د سینې نه یې کپړه هم لرې نکړه، بره یې پرې لاس کیښودے دے، اي سي جي یې هم وشوه، اِیکو یې هم وشوه، انجیو ګرافي یې هم وشوه او عِلاج یې ورته هم تجویز کړو-

## (6): د بوئي کولو طاقت مبارک

د مسلم شریف حدیثِ پاک دے- حضرت ابو هریره رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: یوه ورځ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مسلمان او د غیر مسلمه د رُوح قبض کولو حال بیان کړو، اوئې فرمائیل: چې کله د مؤمِن رُوح قبض کولے شي نو اسمان والا فرښتے وائي: نن د زمکې د طرف نه څومره ښکلې خوشبو راځي او چې کله د غیر مسلمه رُوح د بدن نه ویستلے شي نو د هغې نه بد بوئي خوریږي، د اسمان والا وائي: دا

---

[1]...ابو داود، کتاب الطب، باب فی تمرة العجوة، صفحہ:610، حدیث:3875۔

د زمکې نه څومره بد بوئي راځي- حضرت ابو هريره رضی اللہ عنہ فرمائي: چې کله نبي کريم صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم دا وفرمائيل نو د خپل څادر مبارک پلو يې پۀ پوزه مبارکه باندې داسې کېښودلو، لکه چې پۀ رسول الله صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم به د هغې بوئي ورتللو- (1)

الله! الله! دا دے د بوئي کولو طاقت--!! مونږ ته معلومه ده خوشبوئي وي که بد بوئي، د دې پۀ باره کښې صرف د سوچ کولو سره څۀ اثر نه پريوځي، د مثال پۀ طور تاسو چې کومه خوشبوئي استعمالوئ، تاسو چې د هٰغې خوشبوئي شيشه پۀ لاس کښې نه راخلئ، پۀ جامو باندې يې نه لګوئ، صرف ناست يئ او د خوشبوئي نوم اخلئ نو آيا پۀ تاسو باندې به خوشبوئي درشي؟ آيا جامې به مو معطره شي؟ آيا پوزې او د بوئي کولو آلاتو ته به سکون ميلاو شي؟ نۀ--!! داسې نه کيږي- تاسو ته به خوشبوئي راخلئ ، لګوئ به يې، بيا به خوشبوئي درځي بلکې زمونږه خو حال دا دے چې که خوشبوئي ولګوو نو هم لږ ساعت پس نه محسوسيږي، قربان شم د نبي کريم صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم د بوئي کولو د د طاقت مبارک نه---!! يو غير مسلمه لا مړ نه دے، د هغۀ رُوح لا قبض کړے شوے نه دے، د هغۀ نه لا بد بوئي نه ده خوره شوې، صرف رسول الله صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم صحابۀ کرامو رضی اللہ عنہم ته وه وئيل چې کله د غير مسلمه رُوح ووځي نو د هغې نه بد بوئي خوريږي، صرف پۀ خُله مبارکه باندې يې لا دا وئيلي وو، نبي کريم صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم ته هٰغه بد بوئي محسوسيدل شروع شول او هغوئي پۀ خپله پوزه مبارکه باندې کپړه کېښودله-

دا دے د خوږ آقا صلّی اللہ علیہ والہٖ وسلّم د بوئي کولو طاقت--!! پۀ قرآنِ کريم کښې ذِکر دي، د حضرت يُوسُف عَلَيْهِ السَّلَام قميص مبارک د مِصر نه ورلے شو، حضرت يعقوب علیہ السّلام پۀ کَنعان کښې ناست وو، پۀ ميلونو لرې نه يې خوشبوئي محسوس کړې وه، دا هم ډيره د

---

1 ...مسلم، کتاب الجنۃ و صفۃ...الخ، باب عرض مقعد الميت...الخ، صفحہ:1100، حديث:2872۔

کمال خبره ده---!! خو لږ سوچ خو وکړئ هلته اګر چې میلونه فاصله ده خو خوشبوئي موجوده خو ده، دلته خو خوشبوئي یا بدبوئي هډو موجوده نه ده، صرف د هغې نوم یې اخستے دے، محسوسیدل شروع شوي دي---!!

## د بیان خُلاصه

سُبْحٰنَ الله! دا زما د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم مبارک شانونه دي---!! الغرض: الله پاک خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په هر لحاظ سره، د ټولو مخلوقاتو نه اوچت شانونه خپل محبوب صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته عطا کړي وو، هغوئي ته یې په درجو اوچت والے عطا کړو ✿ رسول الله صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم یې د نبیانو نبي جوړ کړو ✿ ټول نبیان یې د هغوئي زیري ورکوونکي راولیږل ✿ ټولو نبیانو ته یې اوچت شانونه عطا کړل نو د هغوئي په برکت یې عطا کړل ✿ نبي کریم صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم یې خپل حبیب جوړ کړو ✿ که په جسماني لحاظ سره وګورې نو ✿ چې څنګه د لیدلو طاقت هغوئي ته عطا کړے شو، داسې چا ته هم عطا نکړے شو ✿ څنګه رفتار مبارک چې هغوئي ته عطا کړے شو، داسې چا ته هم عطا نشو، ✿ څنګه لطافت او نورانیت چې هغوئي ته عطا کړے شو، داسې چا ته هم عطا نکړے شو ✿ څنګه د لیدلو طاقت چې هغوئي ته عطا کړے شو، داسې چا ته هم عطا نکړے شو ✿ څنګه د اوریدلو طاقت، د څکلو طاقت ✿ د محسوسیدلو طاقت چې رسول الله صَلَّی اللّٰہ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته عطا کړے شو، داسې باکماله او بے مثاله طاقتونه بَل چا ته عطا نکړے شول- عرض دا چې دې ځانګړو شانونو ته د کتلو سره مونږ ته دا وئیل پکار دي:

سب سے اولیٰ و اعلیٰ ہمارا نبی
سب سے بالا و وَالا ہمارا نبی

اپنے مولیٰ کا پیارا ہمارا نبی
دونوں عالَم کا دُولہا ہمارا نبی

جس کو شایاں ہے عرشِ خُدا پر جلوس
ہے وہ سلطانِ والا ہمارا نبی

| | |
|---|---|
| جس کے تلووں کا دھون ہے آبِ حیات | ہے وہ جانِ مسیحا ہمارا نبی |
| خلق سے اولیا، اَوْلیا سے رُسُل | اور رسولوں سے اعلیٰ ہمارا نبی |
| ملکِ کونین میں انبیا تاجدار | تاجداروں کا آقا ہمارا نبی |
| سارے اچھوں سے اچھا سمجھئے جسے | ہے اس اچھے سے اچھا ہمارا نبی |
| سارے اُونچوں سے اُونچا سمجھئے جسے | ہے اس اُونچے سے اُونچا ہمارا نبی[1] |

**سُبْحٰنَ الله! اے د خوږ نبي** صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** دا د سرکار، عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د یو څو شانونو مختصر بیان دے، حق خو دا دے چې

| | |
|---|---|
| زندگیاں ختم ہوئیں اور قلم ٹوٹ گئے | تیرے اَوصاف کا اِک باب بھی پورا نہ ہوا |

د سیدي اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه په شان د اوچتې مرتبې والا عالِمِ دِین که ټول عمر نعتونه ولیکل، نو آخر یې هم دا وه وئیل:

تیرے تو وَصف عیبِ تَناہی سے ہیں بَری
حیراں ہُوں میرے شاہ میں کیا کیا کہوں تجھے[2]

**وضاحت:** یعنې صفتونه ختمیدل هم یو قِسم له عیب دے، یَا رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ستاسو اوصاف او کمالونه خو داسې دي چې "**د ختمیدو**" د عیب نه هم پاک دي، اے زما با کماله آقا، بے مثاله آقا صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! زهٔ حیران یم چې ستاسو کوم کوم شان بیان کړم۔

پهٔ یو بَل ځائے کښې فرمائي:

[1]…حدائقِ بخشش، صفحه:138تا 140 ملتقطاً۔

[2]…حدائقِ بخشش، صفحه:175۔

اے رضا خود صاحبِ قرآں ہے مدّاحِ حضور
تجھ سے کب ممکن ہے پھر مدحتِ رسول اللّٰہ کی[1]

د چا تعریفونه چې رَبِّ کائنات په قرآن کښې کوي، د هغوئي د تعریف حق زمونږ په شان ادنیٰ غلامان څنګه ادا کولے شو--؟؟ بس مونږ ته هم دا ارمان کول پکار دي چې الله پاک دې مونږه د داسې عظیمُ الشانه، بے مثله او بے مثاله، ښه خصلتونو والا او باکماله آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ریښتوني غلام، با عمله او شکر ګزاره اُمَّتي جوړیدو توفیق راعطا کړي! کاش چې په زړهٔ کښې د عشقِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم داسې شمعې بَلې شي چېې دُنیا خو لا څهٔ کړې چې قبر هم په هٔغه شمعو باندې روښانه شي-

لحد میں عشقِ رُخِ شہ کا داغ لے کے چلے
اندھیری رات سنی تھی، چراغ لے کے چلے[2]

**وضاحت:** اوریدلي مو دي چې د قبر شپه تیارهٔ ده، نو مونږ په زړهٔ کښې عشقِ رسول کښینولے دے، دا هٔغه شمع ده، کومه چې به تیارهٔ قبر روښانه کړي-

## د جشنِ ولادت په خوشحالۍ کښې روژه ونیسئ!

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د خپل آقا، کریم آقا، رحیم آقا، د مدینے والا مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ادا به ادا کوو او د جشنِ ولادت په خوشحالۍ کښې به روژه هم نیسو- یاد ساتئ چې دا نفلي روژه ده، څوک یې چې نیولے شي، په صحت روغ وي نو روژه ورله نیول پکار ده- په حدیثِ پاک کښې دي: چا چې د ثواب په طمع یوه نفلي روژه

[1]…حدائقِ بخشش، صفحہ:153۔
[2]…حدائقِ بخشش، صفحہ:369۔

ونيوله، الله پاک به هغهٔ د دوزخ نه د ځلويښتو کالو (د مزل برابر) لرې کړي- [1] د معجمِ کبير پهٔ روايت کښې دي: چا چې يوه نفلي روژه ونيوله، د هغهٔ د پاره به پهٔ جنَّت کښې يوه ونه ناله کړے شي د کومې ميوه چې به د انار نه وړه او د منې نه غټه وي، هغه به د شاتو پهٔ شان خوږه او د ښې ذائقې والا وي، الله پاک به د قيامت پهٔ ورځ پهٔ روژه نيوونکي د دې وَنې ميوه خوري- [2]

## د جشنِ وِلادت او د ميلاد د جلوس پهٔ باره کښې مَدَني ګلونه

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! سبا دولسم شريف (يعني د ربيعُ الاوَّل 12 تاريخ) دے- د خوږ نبي، رسولِ هاشمي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د جشنِ ولادت ورځ ده، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم هم د خپل دور د تقاضو مطابق د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ولادت خوشحالي کړې ده، پهٔ دې نعمت باندې يې د الله پاک شُکر ادا کړے دے بلکې پخپله به هم زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل جشن ولادت جشن کولو بلکې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خو به پهٔ کال کښې نهٔ بلکې هره هفته يعنې د ګل شريف روژه نيوله او جشنِ ولادت به يې کولو-

مونږه به هم اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! ښه پهٔ عقيدت سره جشنِ ولادت کوو- د جشنِ ولادت پهٔ خوشحالۍ کښې به ښې، صفا سوترا جامې هم اغوندو، تياريږو به او د ميلاد پهٔ جلوس کښې به شرکت هم کوو، **د آقا د راتللو نعرې** به هم وهو او اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! دُنيا ته به

---

[1]…جمع الجوامع، جلد:7، صفحه:190، حديث:22251۔

[2]…معجم کبير، جلد:8، صفحه:71، حديث:15323۔

وايو چې زمونږ د بے مثله او بے مثاله آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم جشنِ ولادت دے، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! مونږ په دې باندې د زړۀ د کومې نه خوشحاله هم يو او د رَبِّ کريم شُکر ګزار هم يو۔

منانا جشنِ میلادُ النبی ہر گز نہ چھوڑیں گے
جلوسِ پاک میں جانا کبھی ہر گز نہ چھوڑیں گے
لگاتے جائیں گے ہم یار سولَ اللّٰہ کے نعرے
مچانا مرحبا کی دھوم بھی ہر گز نہ چھوڑیں گے
نبی کے نام پر سو جان سے قربان ہو جائیں
غلامانِ نبی ذِکرِ نبی ہر گز نہ چھوڑیں گے [1]

## د ميلاد پۀ جلوس کښې شرکت وکړئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږ ته اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د ميلاد پۀ جلوس کښې هم ښه پۀ عقيدت سره شرکت کول دي ❀ د ميلاد پۀ جلوس کښې دې پۀ **ګاډو/پۀ موټر سائيکل/پيدل** پۀ هر انداز کښې د پوره تيارئ سره شرکت وکړے شي ❀ د ميلاد پۀ جلوس کښې د پوره نظم و ضبط مظاهره وکړئ! ❀ د ميلاد پۀ جلوس کښې نعتونه او نعرې ھغه لګوئ کومې چې د پاکستان مشاورت آفس/صوبائي آفس له خوا جاري کړے شي ❀ د ميلاد پۀ جلوس کښې دې د هر UC/وارډ/ټاؤن نګران او ذمه داران خپلې بيلې بيلې بينرې جوړې کړي پۀ کوم باندې چې د خپل UC/وارډ/ټاؤن نوم ليکلے وي ❀ د 12 ربيعُ الاوَّل پۀ ورځ د ماسپښين نه تر مازديګر پورې د ميلاد پۀ جلوس کښې دې ټول ذمه داران او د شعبه جاتو والا د **مرحبا يا مصطفٰے** نعرې وهي او د اوَّل نه دې تر آخره پورې شرکت وکړي ❀ د شعبے دوه اِسلامي ورونړه دې د خپلې شعبے بينر ولګوي او مخکښې مخکښې دې ځي، د دې شعبے باقي پاتې اِسلامي ورونړه دې پۀ هغوئي پسې شاته شاته د ښکته سرونو، مَدَني جنډو نيولو، پۀ خُله باندې د نعتونو وئيلو او ډير پۀ ښه انداز کښې

1 ...وسائل بخشش، صفحہ:414-415 ملتقطاً۔

شرکت کوي۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!     صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د نـمونځ کولو فائدې او د نه کولو نقصانونه

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! مونږه د جشنِ ولادت کوونکي هم يو او نـمونځ گزاره هم يو، نـمونځ زمونږه د آقا، د مدينے والا مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سترگو يخ والے دے، ځکه د نـمونځ ښه پابندي کوئ! خاص طور سبا پۀ ميلاد شريف او د ميلاد پۀ جلوس کښې پۀ مصروفياتو کښې هم د نـمونځونو د وختونو پوره خيال وساتئ! داسې نه وي چې د ميلاد پۀ خوشحالۍ کولو کښې (مَعَاذَ الله!) نـمونځونه قضا کړو ❀ نـمونځ وړومبی فريضه ده ❀ نـمونځ د تيارۀ قبر رڼا ده ❀ نـمونځ د قبر د عذاب نه بچ کوي ❀ نـمونځ د قيامت پۀ ورځ پۀ گرمۍ کښې سورے دے ❀ نـمونځ د پل صراط د پاره اساني ده ❀ نـمونځ د دوزخ د وور نه بچ کوي ❀ د نـمونځ سره رحمت نازليږي ❀ د نـمونځ سره گناهونه معاف کيږي ❀ د دعاگانو د قبليدو ذريعه ده ❀ نـمونځ د بيمارو نه بچ کول کوي ❀ د نـمونځ سره بدن ته سکون ميلاويږي ❀ د نـمونځ سره پۀ رزق کښې برکت راځي ❀ نـمونځ د بے حيايۍ او د بدو کارونو نه بچ کول کوي ❀ او اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د خدائے قرب او د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم قرب عطا کوي۔[1] الله پاک دې مونږه ټولو ته د پوخ رښتيني نـمونځ گزاره جوړيدو توفيق راعطا کړي او رښتوني عاشقِ رسول، پاخه ميلاديان مو دې هم جوړ کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

[1]...فيضان نماز، صفحه:10 ملتقطاً۔

ہر عبادت سے برتر عبادت نماز
ساری دولت سے بڑھ کر ہے دولت نماز
قلبِ غمگیں کا سامانِ فرحت نماز
ہے مریضوں کو پیغامِ صحّت نماز
پیارے آقا کی آنکھوں کی ٹھنڈک ہے یہ
قلبِ شاہِ مدینہ کی راحت نماز
بھائیو! گر خدا کی رِضا چاہیے
آپ پڑھتے رہیں باجماعت نماز

## د قرآنِ کریم تلاوت وکړئ---!!

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** نن چې مونږه دچاجشنِ ولادت کوو، په هغوئي باندې قرآنِ کریم نازل شو، زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په کثرت سره د قرآنِ کریم تلاوت کولو- په یو روایت کښې دي: زما د اُمَّت افضل عبادت د قرآن تلاوت دے- [1]

څکه مونږ ته د قرآنِ پاک د تلاوت عادت جوړول پکار دي- د قرآنِ کریم تلاوت هم کوئ او قرآنِ کریم په صحیح طریقه لوستل هم زده کړئ- د بده قسمته نن سبا ډېرو خلقو ته د صحیح تجوید او مخارج سره د قرآنِ کریم لوستل هم نه ورځي- اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دعوتِ اِسلامي د قرآنِ کریم فیضان عام کوونکے دِیني تحریک دے- قرآنِ کریم په صحیح طریقه د لوستلو زده کولو د پاره د دعوتِ اِسلامي د شعبے مدرسة الـمدینه بالغان فیضان حاصل کړئ! په مدرسة الـمدینه بالغان کښې د زیات عمر اِسلامي ورونړو ته د تجوید سره د قرآنِ کریم لوستل ښودلے شي او ورسره ورسره بنیادي ضروري احکام او مسئلې او سُنَّت او آداب هم ښودلے شي، تاسو هم په مدرسة الـمدینه بالغان کښې شرکت وکړئ او د تجوید سره د قرآنِ کریم لوستل زده کړئ-

[1]...شُعَبُ الْاِیمان، باب:تعظیم قرآن، جلد:2، صفحہ:347، حدیث:2004۔

الٰہی خوب دے شوق قرآں کی تلاوت کا | شَرَف دے گنبدِ خضرا کے سائے میں شہادت کا

## د سُنَّتو پابندي کوئ---!!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د الله پاک د حبیب صلَّی اللہ علیہ واٰلہ وسلَّم ژوند زمونږ د پاره د رول ماډل حیثیت لري، الله پاک د رسول الله صلَّی اللہ علیہ واٰلہ وسلَّم ژوند مبارک زمونږ د پاره بهترینه نمونه ګرځولې دہ، پۀ قرآنِ کریم کښې الله پاک ارشاد فرمائي:

لَقَدۡ كَانَ لَكُمۡ فِي رَسُوۡلِ اللّٰهِ اُسۡوَةٌ حَسَنَةٌ (پارہ:21،احزاب:21)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: بے شکه ستاسو د پاره د الله پۀ رسول کښې بهترینه نمونه موجوده دہ۔

معلومه شوه چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلَّی اللہ علیہ واٰلہ وسلَّم پۀ سیرت کښې د پیروی کولو د پاره بهترینه طریقه موجود دہ د کومې حق چې دا دے چې د هغوئي اقتدا او پیروي وکړے شي۔

اے د خوږ نبي صلَّی اللہ علیہ واٰلہ وسلَّم عاشقانو! مونږه عاشقانِ رسول یو نو مونږ له خپل ژوند څنګه تیرول پکار دي؟ داسې ژوند تیرول پکار دي څنګه چې زمونږه خوږ نبي صلَّی اللہ علیہ واٰلہ وسلَّم تیر کړے وو ❀ د نبي کریم صلَّی اللہ علیہ واٰلہ وسلَّم پۀ مخ مبارک باندې ښکلې ګیره مبارکه وه او د ګیرو خریونکو نه به یې د سختې ناراضګۍ اظهار فرمائیلو، مونږ له هم پکار دي چې مونږه هم خپل مخونه پۀ ګیرو باندې ښائسته کړو او د مصطفٰے کریم صلَّی اللہ علیہ واٰلہ وسلَّم د ناراضه کولو پۀ ځائے د هغوئي د کرم د نظر حقدار جوړ شو ❀ خوږ آقا صلَّی اللہ علیہ واٰلہ وسلَّم به سپینې جامې خوښولې، مونږ له پکار دي چې مونږ د سُنَّتو مطابق جامې اغوندو ❀ د هغوئي به اکثر عمامه مبارکه پۀ سر وه، پۀ نـمونځ کښې به یې هم زیاتره عمامه مبارکه استعمالوله، مونږ له هم پکار دي چې

مونږه هم د خپل آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم پۀ دې سُنَّت باندې عمل وکړو ❁ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم اکثر زلفان مبارک ساتلي دي، نو بيا مونږ له هم زلفې مبارکې پريښودل پکار دي ❁ د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم مسواک ډير خوښ وو، عموماً د اودس نه مخکښې، کور ته د تللو، د شپې د اوده کيدو نه مخکښې به يې مسواک کولو، تر دې پورې چې پۀ خپل آخري وخت کښې يې هم حضرت عائشه رَضِىَ اللهُ عَنْهَا ته د مسواک کولو خواهش وفرمائيلو، مونږ له هم پکار دي چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم پۀ سُنَّت باندې عمل وکړو او د مسواک عادت جوړ کړو۔

غرض دا چې مونږ له پکار دي چې مونږه خپل اوده کيدل پاڅيدل، ناسته پاسته، خوراک څښاک، هر کار د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم د سُنَّتو مطابق وکړو۔ اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د دې پۀ برکت باندې به يو خوا خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم زمونږ نه راضي شي نو بل خوا به زمونږه هر يو کار عبادت جوړ شي او د الله پاک د طرف نه به مونږ د ثواب حقدار جوړ کړي۔

مسلمانانو ته د سُنَّتو ترغيب ورکوي او امیرِ اهلِسُنَّت محمد الياس عطار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه فرمائي:

سنّت کی طرف لوگو تم کیوں نہیں آجاتے
کیوں سرِ گناہوں کا بازار نہیں ہوتا

سرکار کا عاشق بھی کیا داڑھی منڈاتا ہے
کیوں عشق کا چہرے سے اظہار نہیں ہوتا

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد**

## د مَدَني مذاکرے او مَدَني قافلے ترغيب

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَالِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! پۀ زړۀ کښې د عشقِ رسول کښينولو، د نيک

جوړيدو او د ايمان د حفاظت د ذهن موندلو د پاره د دعوتِ اِسلامي ديني ماحول ته راشئ او د دعوتِ اِسلامي پهٔ ديني کارونو کښې هم ښه پوره برخه واخلئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د نيکو کولو او د ګناهونو نه د بچ کيدو ذهن به مو جوړ شي-

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِيَه د هر خالي پهٔ ورځ د ماسخوتن د نـمونځ نه پس پهٔ مَدَني چينل نيغ پهٔ نيغه (***Live***) مَدَني مذاکره کوي، پهٔ زرګونو عاشقانِ رسول پهٔ خپل ***UC***، ټاؤن، ښارونو کښې **اجتماعي طور د مَدَني مذاکرے** کتلو اهتمام کوي او د **مَدَني چينل، سوشل ميډيا** (مثلاً يوټيوب، فيس بُک وغيره) پهٔ ذريعه خو معلومه نه ده چې د دُنيا پهٔ کوم کوم ځائے کښې مَدَني مذاکره کتلے کيږي، تاسو هم پهٔ مَدَني مذاکره کښې پهٔ پابندۍ سره شرکت کوئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! عِلمِ دِين به زده کړئ او د دِين او د دُنيا بے شميره خيرونه به مو نصيب شي-

پهٔ اوسني دور کښې د نيک نـمونځ ګزاره جوړيدو، د سُنَّتو زده کولو او د دِين پيغام عام کولو د پاره د دعوتِ اِسلامي والا عاشقانِ رسول سره پهٔ مَدَني قافلو کښې سفر کول هم ډير فائده مند دي- اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دريو ورځو، دولسو ورځو، يوې مياشتې او د دولسو مياشتو مَدَني قافلې وخت پهٔ وخت سفر کوي- تاسو هم د مَدَني قافلو مسافر جوړ شئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! اخلاق به مو ښه کيږي، د نيکو رجحان به مو زياتيږي، د عشقِ رسول دولت به مو نصيب کيږي او پهٔ ژوند کښې به مو مَدَني انقلاب راځي- راځئ چې د ترغيب د پاره يو مَدَني سپرلے واورو:

## د زړهٔ حالت يــې بدل شو

د فيصل آباد (پنجاب، پاکستان) د يو اِسلامي ورور د بيان خُلاصه ده: د دعوتِ اِسلامي دِيني ماحول ته د راتللو نه مخکښې زهٔ د خراب کردار مالک ووم- د دروغو، غيبت، چغلۍ، بد نظرۍ پهٔ شان ګناهونه زما معمول وو، ما مارشل آرټ زده کړے وو د کوم پهٔ وجه چې به ما هيڅ بے هيڅه د خلقو سره جګړې کولې، هر يو نوے فيشن اختيارول زما شوق وو، آه! د نـمونځونو نه دومره لرې ووم چې ما ته دا هم معلوم نه وو چې پهٔ نـمونځ کښې څو رکعتونه وي- آخر د رحمت دروازه برسيره شوه او زما بخت ځهٔ داسې رابيدار شو چې د دعوتِ اِسلامي د دِيني ماحول سره تعلق لرونکي يو اِسلامي ورور ما ته پهٔ مَدَني قافله کښې د سفر کولو دعوت راکړو، د دوست خبره مې اونه غورځوله او د دريو ورځو پهٔ مَدَني قافله کښې مسافر شو- پهٔ مَدَني قافله کښې د عاشقانِ رسول د صحبت پهٔ برکت ما ته د ژوند د تيرولو مقصد معلوم شو، پهٔ خپلو ګناهونو پښيمانه شوم، زما د سترګو نه د غفلت پټۍ لرې شوه، د زړهٔ دُنيا مې بدله شوه، ما د ګناهونو نه توبه کړه او د دعوتِ اِسلامي پهٔ دِيني ماحول کښې مې ژوند تيرول شروع کړل-

دل کی کالک دُھلے مرضِ عصیاں ٹلے
کر سفر آئیں گے، تو سُدھر جائیں گے

آؤ سب چل پڑیں قافلے میں چلو
اب نہ سستی کریں، قافلے میں چلو[1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د مختلف ايپلي کيشن تعارف

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دعوتِ اِسلامي د جديد ټيکنالوجۍ پهٔ ذريعه هم

---

[1] …وسائل بخشش، صفحه:669-672-

د نيکۍ د دعوت په عام کولو کښې مصروف دے- د دعوتِ اِسلامي د ***I.T*** ډيپارټمنټ له خوا اوسه پورې ډير موبائل ايپلي کيشن جاري کړے شوي دي: (1): **تفسير صِراطُ الجِنان موبائل ايپلي کيشن**: د قرآنِ کريم لوستلو، په دې د پوهيدلو او د قرآنِ کريم د فيضان حاصلولو د پاره يو زبردست او نا اشنا ايپلي کيشن دے- د دې په ذريعه قرآنِ کريم د ترجمې او تفسير سره لوستلے شئ او خپله سينه د قرآنِ کريم په نُور باندې روښانه کولے شئ- (2): **فيضانِ حديث موبائل ايپلي کيشن**: دا ډير ښکلے ايپلي کيشن دے، د دې په ذريعه تاسو د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم حديثونه مبارک او د هغې شرح لوستلے شئ- په دې ايپلي کيشن کښې د حديثِ پاک مشهور کتابونه مثلاً ❁ **مِشْکٰوةُ الْمَصَابِيْح** او د دې اسانه اُردو شرح **مِرْاٰةُ الْمَنَاجِيْح** ❁ **الأربَعِيْنِ النّووِيَّة** د اُردو ترجمې او شرحې سره ❁ **رِياضُ الصَّالِحِين** د اُردو ترجمې او شرحې سره ❁ **أَربَعِيْنِ حَنَفِيَّه** (اردو) ❁ او **مُنْتَخَب اَحَادِيث** (اُردو) شامل کړے شوي دي- ❁ د دې ايپلي کيشن په مدد سره تاسو حديثونه مبارک په کتابي شکل کښې (يعني د جلدونو په لحاظ سره) هم لوستلے شئ او د مختلفو موضوعاتو په لحاظ سره هم د خپلې خوښې موضوع لوستلے شئ ❁ د سرچ آپشن [يعني د لټولو آپشن] په مرسته حديثونه مبارک لټولے هم شئ- (3): **بهارِ شريعت موبائل ايپلي کيشن**: د دې ايپلي کيشن په ذريعه دِيني مسئلې لوستلے او زده کولے شئ (4): **مولانا الياس قادري موبائل ايپلي کيشن**: د دې ايپلي کيشن په ذريعه تاسو معلومولے شئ: د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه مختصر تعارف ❁ په خوندورو موضاعاتو باندې د مشتملو ***Category wise*** مَدَني مذاکرو سوالونه او د هغې جوابونه ❁ د اميرِ اهلِسُنَّت

دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَه آفیشل سوشل نیټ ورک اکاؤنټ۔

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د بیان په اخره کښې د سُنّتو فضیلت او د ژوند د یو څو ادابو بیانولو سَعَادت حاصلووم۔ تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِی فِی الْجَنَّةِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت وکړو هغهٔ زما سره محبّت وکړو او چا چې زما سره محبّت وکړو هغهٔ به په جنّت کښې زما سره وي۔ (1)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جنت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## ګیره پرېښودل سُنَّتِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دي

د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: بریتونه کټ کړئ او ګیرې غټې کړئ د مجوسیانو مخالفت وکړئ! (2)

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! ګیره پرېښودل سُنَّتِ مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بلکې سُنَّتِ انبیا دي ❀ زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ګیره مبارکه به همیشه د یو موټي په مقدار وه ❀ که د یو موټي نه به غټه شوه نو وره کوله به یې۔ ❀ د نبي کریم صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ګیره مبارکه په پلن والي کښې دومره وه چې سینه مبارکه به

---

1 ۔۔۔تاریخ دمشق، جلد:9، صفحہ:343۔

2 ۔۔۔مسلم، کتابُ الطہارت، باب:خِصَالُ الْفِطْرَة، صفحہ:153، حدیث:257۔

يــې ږکوله۔ [1]

❁ آخري نبي، رسولِ هاشمي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به کيره خَريل او بريت غټول بيخي نه خوښول ❁ پۀ بهارِ شريت کښې دي چې کيره خريل يا د يو موټي نه کمول حرام دي۔ [2]

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتيں اور آداب** واخلئ او اوئې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اِسلامي پۀ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

سنّتیں سیکھنے تین دِن کے لئے | ہر مہینے چلیں، قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

**صَــلُّـوۡا عَـلَـى الۡـحَـبِـيۡـب!   صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد**

---

[1]…انوارِ جمالِ مصطفے، صفحہ:157 خلاصتً۔

[2]…بہارِ شریعت، حصہ:16، جلد:2، صفحہ:586۔